# په افغانستان او دهند په نيمه وچه کې دانګريزانو د سيسې او جاسوسان

جاسوسي په نړۍ کې تر فحشا وروسته دوهم پخواني مسلک ګڼل کيږي . که څه هم دننيو معاصرو هيوادونو د ملي امنيت د تامين دپاره استخباراتي خدمات زيات اهميت لري. خو دانګريزانو استخباراتي فعاليتونه د پنځلسمې (۱۵) پيړۍ راهيسې روان دي. په اروپا کې ددوی جاسوسي فعاليتونه د اتم هنري[1] په وخت کې ادامه درلوده. د لومړۍ ملکې اليزابت[2] په وخت کې د پنځوسو (۵۰ ) انګريزي جاسوسانو يوې شبکې فعاليت درلود. دلومړۍ ملکې اليزابت له درباره نيولې تر اوسه انګريزانو کوښښ کړې چې هم د دوستانو او هم ددښمنانو په هکله د بريتانوي ديپلوماسۍ په ګټه مؤثق معلومات ترلاسه کړي. ددوې استخباراتو دامريکې نه نيولې تر هسپانيې، جرمني، فرانسې، روسيې، چين، منځني ختيځ، مرکزي اسيا او افريقائي هيوادونو په ګډون تقريبا ټولو هيوادونو کې د خپلې جاسوسۍ جالونه خپاره کړيدي.[3]

## داستخباراتي اداري انکشاف

انګريزانو په ۱۷ مه پيړۍ کې د يوې پټې اداري لخوا د مشکوکو خطونو لټول پيل کړل. په ۱۸ مه پيړۍ کې يې درمزونو (شفرونو) د کشف او ترجمې څانګه تاسيس کړه تر څو د خارجي طاقتونو مخابرات کشف کړي. کله چې د۱۹۰۷ او ۱۹۱۷ کلونو تر منځ بريتانوي راج يا په هندوستان کې د انګريزانو واکمني د سخت ګواښ سره مخامخ شوه، نو په نتيجه کې يې هم په سيمه او هم په نړيواله کچه استخباراتي عمليات ډير پراخه شول. په رسمي توګه د انګلستان د استخباراتو رسمي او دايمي اداره په ۱۹۰۹ م کال کې د پټو خدماتو د اداري Secrete Services Bureau په جوړيدو سره منځ ته راغله او دلومړۍ نړيوالې جګړې په دوران کې يې د بريتانوي امپراتورۍ په ساتلو کې مهم رول ولوباوو. د ۱۹۱۴ او ۱۹۱۲ کلونو په موده کې انګريزانو ته عمده خطر ددوې په اصطلاح د "تروريستانو " يا آزادي غوښتونکو او ملت پالو يا نشنلستو جنګياليو څخه متوجه وو، چې د هند په نيمه وچه، افغانستان او نورو هيوادو کې يې فعاليت درلود.

## داستخباراتي ادارو مختلفې څانګې او فعاليتونه

دانګريزانو د استخباراتو اداره مختلفې څانګې لري. داخلي برخه يا کورني استخبارات يا Security Service چې د IM5 يا (Section 5 of the Directorate of Military) يا دنظامي امريت د پنځمې برخې په نامه ياديږي. خارجي برخه يا بين المللي استخبارات Secrete Intelligence Service يې د IM6 (Section 6 of the Directorate of Military) يا دنظامي امريت د شپږمې برخې په نامه ياديږي. د انګريزانوپه استخباراتي فعاليتونو کې نظامي او بحري استخبارات، سياسي استخبارات، دخاصو عملياتو سرته رسول (لکه کودتاوې او سياسي ترورونه او وژنې)، ساينسي استخبارات او صنعتي استخبارات شامل دي. دوې دخارجي هيوادونو د امکاناتو او مقاصدو، داکمالاتي لارود استحکام، د ملي غورځنګونو دټکولو، دګاونډيانو په وړاندې د سرحداتو دټينګولو، اود خارجي جاسوسي فعاليتونود خنثی کولو په هکله د دقيقو او په وخت معلوماتو دلاسته راوړلو کوښښ کوي.

## دهند په نيمه وچه او افغانستان کې دانګريزانو جاسوسي فعاليتونه

په دې سيمه کې دانګريزانو جاسوسي فعاليتونه دختيځ هند دکمپنۍ په راتګ سره پيل او دافغانانو او انګريزانو لومړۍ جګړې سره شدت پيدا کړ. هندوستان کې انګريزان دخپلې واکمنۍ دساتلو دپاره ددوه ډوله ستونزو سره مخامخ وو. دوې هم دداخلي ناکرارۍ او هم د خارجي مداخلې او حملې څخه ډار او ويره درلوده. په داخلي ناکرارۍ کې د سياسي او مذهبي غورځنګونو او د سيمې د مسلمانانو د يووالي څخه ويره او په سرحدي سيمو کې د پښتنو قبايلي جنګياليو حملې شاملې وې. په خارجي برخه کې دوې دهندوستان په لورې هم دشاه زمان په شان هيوادپالو افغاني واکمنانو او هم دفرانسوي ناپليون او تزاري روسي امپراتورۍ داحتمالي

حملو ځخه ډار درلود . په خاصه توګه په بريتانوي هند باندې دروسانو دتيرې دتصور او يا ربنتيني تيري دمخنيوي داندېښنې موضوع وه، چې دافغانانو او انګريزانو دلومړۍ جګړې ځخه وروسته،يې د يوسلوديرشو (۱۳۰ ) کلونو دپاره دهند په هکله د انګريزانو پرسياسي او نظامي ستراتيژۍ تسلط درلود .

ددې دواړو انديښنوسره دمقابلې دپاره انګريزانو دسرحد نه آخوا يا په افغانستان کې استخباراتو ته اړتيا درلوده، اوپه افغانستان کې دانګريزانو د سياسي، پوځي او استخباراتي هلوځلو پراختيا هم له همدې ځايه پيل شوه . دوې دپاليسيو او ستراتيژيکو پلانونو دجوړولو دپاره دمعلوماتو په اهميت ښه پوهيدل . دوې ته دافغانستان دسيمې دجوړښت، دتګ راتګ دلارو، منابعو، داخلي سياست، قومي ډلو ټپلو، دښمنيو او متنفذو شخصيتونو په هکله استخباراتي معلومات هم دسياسي مناسباتو دټينګولو، او هم د احتمالي عملياتو دترسره کولو دپاره زمينه برابروله .

"لاردولسلي " [۴] چه په افغانستان کې دشاه زمان دواکمنۍ په وخت کې دهندوستان بريتانوي ګورنر جنرال وو، هغه لومړنې کس وو چې دافغانستان د ختيځې او جنوب ختيځې سيمې په واقعي ارزښت پوهيده (دا سيمه وروسته دهند دشمال غربي سرحدي سيمې په نامه ياده شوه) . دده په فکر تر ټولو چې يو مقتدره افغان پاچا دافغان او ميشتو افغانانو پدې سيمه کې حاکميت او نفوذ ولري، دهند نيول به افغانانو ته ديوې لوبې مثال ولري. نو ځکه لارد ولسلي په ۱۷۹۷ کال کې يوه داسې تګ لاره جوړه کړه چې په هر قيمت چې وي، دافغانانو لاس نه يوائې دهند او پنجاب نه لنډ کړي، بلکې دسند او بلوچستان دلويديزو خاورو نه پورې غاړه ختيځې او جنوب ختيځې سيمې له خپل هيواده جلا کاندې[۵] .

هدف ته درسيدو دپاره دانګريزانو پلان دتړلي سرحد (تدافعي)، مخکې تګ (تعرضي) او په کوچنيو برخو دهيوادونو دتجزيې او ويشلو پړاوونه درلودل ، تر ټولو دمحلي قوتونو په رامنځته کيدو سره مرکزي واحد او قوي حکومت له منځه يوسي . دوې ددغه پلان د پلي کولو دپاره دنظامي، تبليغاتي، ورانکارۍ او نورو ډيرو لاروچارو ځخه استفاده وکړه .

### ستره لوبه( The Great Gameيا بازي بزرګ)

د ۱۸۱۰ او ۱۹۰۷ کلونو په موده کې په افغانستان او منځنۍ اسيا کې دانګريزي او روسي امپراتوريو پلټونو، جاسوسيو او دسيسو يا چل ول ته د سترې لوبې نوم ورکړ شويدې. [۷] دسترې لوبې په بريتانوي لوبغاړو کې درې ډلې شاملې وې:

أ بريتانوي فوځ او د هغې منصبداران او د بريتانوي هند د حکومت سياسي اداره
ب بريتانوي جاسوسان چې يا خو سيلانيان او يا هم عسکري مامورين وو
ج هغه محلي کسان چې دمعلوماتو د راټولولو دپاره انګريزانو استخدام کړي وو او هغو خطرناکو ځايونو ته به يې استول، کومو ته چې به د آروپايانو ورتلل ګران وو. دوې به اکثره يا دپيرانو او روحانيونو او يا هم دبودايي زيارت کوونکو په جامه کې استول کيدل. انګريزانو دا ډله ددوې د غير عادي مهارت او چالاکۍ په وجه استخدام او تر ليږلو دمخه به يې دپټو معلوماتو د راټولولو او پټې سروې په چاروکې تربيه کول. ددې ډلې د شمير او نومونو په هکله زيات معلومات ځکه نشته، چې دوې د خپل کار ليکلې رپوټونه پرېښودلي ندي.

ديادولو وړ ده چې دسترې لوبې د بريتانوي لوبغاړو تر ټولو مهمه ډله د بريتانوي فوځ منصبداران او د سياسي شعبې مامورين وو. دسترې لوبې دبريتانوي لوبغاړو په معروفه څيرو کې لاندني کسان شامل وو:

- جيمز ايبټ James Abbott، چې په خيوا کې يې دروسانو په ضد فعاليت درلود، دبريتانوي هند د هزاره دسيمې د چارو مسئوليت وروسپارل شو، او دايبټ آباد ښار يې په نوم ياديږي.
- لارد اوکلند Lord Auckland ، دبريتانوي هند ګورنر جنرال چې په افغانستان يې د ۱۸۳۹ کال دتيري امر صادر کړ.

- ډاکټر ويليام براېډن Dr. William Brydon ، چي دافغانانو او انګريزانو دلومړۍ جګړې ديواځيني ژوندي پاتې شوي کس په توګه مشهوره شو.
- الکساندر برنيس Alexander Burnes ، هغه سيلاني چي مرکزي اسيا ته دسفر کتاب يې ډېر مشهوره شو، دکابل په تخت دشاه شجاع د کښېنولو وروسته ددانګريزانو دهيئت مرستيال او د۱۸۴۱کال په پاڅون کې ووژل شو.
- کيوناري Cavagnari ، دافغانانو او انګريزانوددوهمې جګړې په وخت کې په کابل کې دانګريزانو دنمايندګۍ مشر چي دوه مياشتې وروسته ديوه پاڅون په نتيجه کې ووژل شو.
- ارتر کونولي Arthur Connolly، دستري لوبې داصطلاح اختراع کوونکی چي په بخارا کې ترې سر پريکړ شو.
- لارډ کرزن Lord Curzon، دبريتانوي هند وايسراى (نائب السلطنه) چي شمال مغربي سرحدي ايالت يې تاسيس او سيمه يې مستقيما دمرکز تر اداري لاندې راوسته.
- ميجر هرالډ دين Harold Deane، د۱۸۹۷کال دازاد سرحد دقبايلو دستر پاڅون په وخت کې دملکنډ بريتانوي سياسي مامور، او په ۱۹۰۱کال کې دشمال مغربي سرحدي ايالت جوړيدوسره سم لومړنی کميشنر.
- مورتمر ديورند Mortimer Durand، دهندوستان هغه خارجه سکرتر چي په ۱۸۹۳کال کې يې د بريتانوي هند او افغانستان تر منځ دسرحد دټاکلو خبرې سرته ورسولې او دغه سرحدي کرښه يې په نوم يادېږي.
- ويليام ايلفينستين William Elphinstone، هغه انګريزي جنرال چي دافغانانو او انګريزانو په لومړۍ جګړه کې يې دانګريزي قواوو قومانده پر غاړه وه او په ۱۸۴۲کال کې دافغانانو په لاس ووژل شو.
- ليپيل ګريفين Lepel Griffin، هغه سياسي مامو ر چي په ۱۸۸۰ کال کې يې امير عبدالرحمن خان سره دقدرت درسيدو دپاره دانګريزانو په شرايطو خبرې وکړې.
- حوزيه هارلن Josiah Harlan، په افغانستان کې لومړنی امريکايي جاسوس .
- موهن لال Mohan Lal، اصلاً مسلمان او نوم يې آغا حسن خان و، نيکونه يې د راجه منی رام کشميري له کورنۍ او د اسلام په دين مشرف شوي وو. پلار يې ميرزا محمد شکوه نوميده. موهن لال د سدوزيو د کورنۍ د سقوط او د وزير فتح خان د وروڼو د عروج په وخت کې په افغانستان کې، او د انګرېز انو سره دافغانانو په جګړه کې د استعمار د پرمختګ له مهمو عواملو او جاسوسانو څخه وو. هغه دانګرېزانو په فعاليت کې مهمه ونډه درلوده. هغه نه يواځې د الکساند برنيس سره د منشي، او ترجمان په توګه خدمت وکړ او هغه ته يې فارسي ژبه زده کړه، بلکې انګريزانو ته يې مهم معلومات راټولول، مخورو افغانانو ته به يې رشوتونه ورکول چي دانګريزانو پلويان شي، او دانګريزانو ددښمنانو دوژلو دسيسې به يې هم جوړولې. د امير دوست محمد خان دژوند په نامه دهغه يو کتاب[7] کې دهغه د سترګو ليدلي ډېر حالات راغونډ شوي چي د محمدزيو د دورې د تاريخ له مهمو منابعو څخه ګڼل کيږي .
- لارډ ليتن Lord Lytton، دهندوستان هغه وايسراى وو چه دتيري کوونکي فارورډ پاليسۍ له امله يې دافغانانو او انګريزانو دوهمه جګړه پيښه شوه.
- مکناټن William Macnaghten، په افغانستان کې دانګريزانو دتيري کونکي پوځ مشر اودهغه هيئت مشر هم وو چي شاه شجاع يې دقدرت په ګدۍ کښيناوه. هغه د ۱۸۴۱کال ددسمبر په مياشت کې دوزير اکبر خان په لاس ووژل شو.
- جان مکارتني John Macartney، بريتانوي سروې کوونکې اود مونستوارت ايلفنستين دماموريت د ټيم هغه غړې وو چي دافغانستان يوه ډيره په زړه پورې نقشه يې جوړه کړه.
- چارليس ميسن Charles Masson، چي اصلي نوم يې جيمز ليويس وو، په ظاهره دبريتانوي پوځ څخه کابل ته وتښتيد، په ۱۸۳۹کال کې يې دانګريزانو دپاره جاسوسي کوله، دسوالګر په بڼه يې ډېر ځايونه وليدل. هغه يو ښه لرغون پيژندونکې هم وو، او دکابل شمال ته پروت هغه ښار ګوتې يې هم آروپايانو ته ورو پيژانده ، کوم چي مقدوني اسکندر جوړ کړې وو.

- ويليام موركرافت William Moorcroft، چې دآسونو دسوداګر په بڼه يې انګريزانو ته جاسوسي کوله.
- ايلدريد پاتينجر Eldred Pottinger ، چې دهرات دښار په جامع جومات کې يې دخطيب او ملا امام دنده تر سره کوله.
- روزکيپل Roos-Keppel ، چې ۱۹۰۸ او ۱۹۱۹ کلونو ترمنځ دشمال مغربي سرحدي ايالت کميشنر وو او دانګريزي /پښتو ژبې قاموس يې وليکو.

## په کابل کې دانګريزانو ميشته وکيلان يا مسلمان ايجنټان

انګريزانو په لومړي سر کې دافغانستان په هکله ډير لږ معلومات درلودل. که څه هم دافغانستان په هکله دځينو مسافرو او سيلانيانو کيسې موجودې وې، خو دالفينستن تر استولو انګريزانو دبريتانوي هند دسرحد (اټک) څخه آخوا زيات معلومات نه درلودل [۸]. دوې ته به داستخباراتي معلوماتو راټولول نه يوازې داچې ستونزمن او خطرناکه وو، بلکه دامعلومات نيمګړي او په نشت حساب وو. دمعلوماتو څرنګوالي به دهغو افرادو په قابليت او ورتيا پورې مربوط وو، کومو چې به په بدلو څيرو او جامو کې سفر کاوه. انګريزانو به کله ناکله وطني او ځايي خبر ليکونکي هم ګمارل.

انګريزانو ددې ستونزې دله منځه وړلو دپاره هڅه وکړه چې په افغانستان کې خپل ميشت نمايندګان وګماري. خوکه د (۱۸۳۸ - ۱۸۴۲) او (۱۸۷۸ - ۱۸۸۰) کلونو يا دافغانانو او انګريزانو دلومړۍ او دوهمې جګړې نه تير شو، په کومو کې چه انګريزانو په کابل کې د خپلو نمايندګانو دميشته کولو ناکامه او له مصيبته ډکې هڅې وکړې، نوبيا انګريزانو تر ۱۹۲۲ م کاله په افغانستان کې کومه ديپلوماتيکه او سياسي نمايندګي نه درلوده. خو دوې پدې بريالي شوي وو چې په کابل کې اوسيدونکي وکيلان يا دبريتانوي هند مسلمانه ايجنټان(عاملين) ولري او د هغوې په ذريعه خپل رپوټونه او معلومات لاسته راوړي [۹].

د ۱۸۸۲ او ۱۹۱۹ کلونو ترمنځه دبريتانوي هند د حکومت دمسلمانو وکيلانو په ډله کې په ترتيب سره خان بهادرمحمد افضل خان، سردار ميرزا عطاالله خان، سردار محمد افضل خان ګنداپور، محمد عزت خان منشي، محمد اکرم خان، مولوي غفور خان، حافظ محمد نواز خان، ملک خدابخش توانا، ، فقير سيد افتخارالدين، ملک طالب مهدي خان، او حافظ سيف الله خان شامل وو.

دافغانستان داستقلال دګټلو نه وروسته د ۱۹۲۱کال دتړون په اساس دافغانستان او بريتانيا تر منځ دسياسي اوديپلوماتيکو اړيکو او نمايندګيو جوړيدو ته لار پرانيستل شوه. او دهند دخپلواکۍ تر وخته چې بيا انګريزان په ظاهره له سيمې ووتل، دانګريزانو سفيران په کابل کې ميشته وو. دا ټول سفيران دهندوستان دسياسي خدماتو مامورين وو او دباندنيو چارو دوزارت لخوا به ټاکل کيدل. پدې سفيرانو کې په ترتيب سره فرانسس هنري همفري، ريچارد مکوناچي، ويليام فريزر- تايتلر، فرانسيس ويلي، او ګيلز فريدريک سکواير شامل وو. انګريزانو دافغانانو سره ددوهمې جګړې دپيل کيدو نه وروسته داستخباراتو موضوع ته خاصه توجه وکړه او استخباراتي څانګې يې تاسيس کړې.

## دمختلفو وسايلو او چلونو نه استفاده

که په افغانستان، عربي هيوادونو او هندوستان کې د انګريزانو عملي شوو پلانونو ته وګورو نو څرګنده به شي چې ددوې دفعاليتونو هدف په سيمه کې دتوطئو او دسيسو، سبوتاژ، په حاکمه محافلو کې د نفوذ، دلويو رشوتونو په ورکولو، دقدرت په ګدۍ دلاس پوڅو اميرانو او پاچاهانو په کښينولو،او دهيوادونو دطبيعي جغرافيې په بدلولو متمرکزه وو. دوې به په ډير مهارت او خاصې هوښيارتيا سره دهيوادونو په دربار، او مخورو قومي او روحاني کړيوکې اثر رسوخ پيدا کاوه. پدې لاره کې ددوې غوره وسيله د پيسو نه کار اخيستل وو، دکومې په ذريعه چې يې اشخاص په بيه اخيستل، استخدامول او دهغوې له لارې به يې اغتشاش ته لمنه وهله، منفي تبليغات به يې کول، او په سلطنتي محافلو، سياسي ډلو او عامو خلکو کې به يې نا باوري او خپلمنځي اختلافات منځ ته راوړل [۱۰]. په افغانستان کې دبريتانوي جاسوسي فعاليتونو ځينې نمونې په لاندې ډول دي:

### أ دنفاق واچوه او حکومت وکړه د فورمول طرح:

انگريزان پدې باور وو چې يوسړې يو پوره اوبښ هم خوړلاې شي که چيرې هغه لومړې ټوټې، ټوټې کړې . هغوې ددراني امپراتورۍ دکمزوري کولو، بې ثباتۍ او افغانستان دټوټې کولودپاره نه يواځې دشاه زمان دواکمنۍ په دوران کې دايران قاجاري پاچا دافغانستان په لويديزو سيمو تيري ته وهڅوه، بلکې دتيمورشاه داولادې دخپلمنځي اختلافاتو څخه يې د استفادې پلان جوړ کړ او دسدوزايي ورونو څخه يې شاه شجاع دراني دخپلو اهدافو دپاره غوره اودلاس پوڅي په توگه استعمال کړ . پر دې سربيره هغوې د سدوزيو او بارکزيو(سردار پاينده محمد خان داولادې) داختلافاتو څخه هم گټه واخيسته، او ددوې له منځه يې ځو تنه استخدام کړل چې دسپه سالار محمد نادر خان دحکومت تر جوړيدو او حتی هغې نه وروسته هم ددوې په خدمت کې بوخت وو.

ب    دخپلو مقاصدو دپاره د مرورو او مهمو اشخاصو استعمال:

انگريزانو به دافغانستان په حکومت باندې دفشار او دهغوې دسر غړونې په صورت کې دخپلو گوډاگيو دنصبولو په غرض دافغانستان دچارواکو مرور ورونه او دکورنۍ غړي دځان سره ساتل. دوې په ۱۹۱۹کال کې کله چې غازي امان الله خان په کابل کې دپاچاهي اعلان وکړ، سردار نصرالله خان ته هم بله ورکړه چې بريتانوي هند ته لاړ شي.

أ    دهيوادونو دطبيعي جغرافيې بدلول اودراتلونکي دپاره د جگړو او لانجو د تخم کرل:

انگريزانو يواځې دډيورنډ دکرښې په تحميلولو سره دافغانستان دپښتنو قبايلو، کورنيو، او ورونو دبيلولو هڅه نده کړې، بلکې که په سيمه کې دمعاصرو هيوادونو تر منځ تاريخي اختلافاتو، لانجو او جنگ جگړو ته ځير شو نو څرگنديږي چې دافغانستان او پاکستان تر منځ دسرحدي کرښې ،د هندوستان او پاکستان تر منځ دکشمير، او شرقي پاکستان (بنگله ديش)، دايران او عراق ترمنځ د شط العرب دسرحدي لانجو او جگړو تخم هم دوې د خپلو استعماري پاليسيو په ترڅ کې کرلاې دئ.




ب    درشوتونو او تحفو ورکول:

انگريزي چارواکو حاکمو کړيو کې دنفوذ دپاره د لويو رشوتونو او تحفو دورکولو څخه ديوې ښې وسلې په توگه استفاده کوله. کله چې مونستوارت ايلفنستين د۱۸۰۸م کال د اکتوبر په ديارلسمه نيټه دافغانستان دحالاتو دمعلومولو دپاره، يا دانگريزانو په اصطلاح ددوې دلومړني استاځي په توگه خپل ستر ماموريت پيل کړ، نو دغه ۲۹ کلن بريتانوي سياسي مامور دافغان درباريانو سره د مناسباتو دټينگولو دپاره دځان سره په تحفو بار دشپږ سوه (۲۰۰) اوښانواو دولس (۱۲) پيلانو کاروان روان کړي وو[11]. انگريزانو وروسته هم دمادي امتيازاتو، ځمکو او منصبونو په ورکولو سره دځينو ملکانو، اربابانو، خانانو او نوابانو نه استفاده کوله. پردې سربيره دوې ځينوکسانو ته د خان بهادر، نواب او زړورتوب د رتبو په ورکولو او حتی ددوې اولادونو او خپلوانو ته د مهمو دندو په ورسپارلو سره هڅه کوله ددوې حمايت ترلاسه کړي[12]. په آزاد سرحد کې هم دوې ملکانو ته د تنخواه ، منظوريو (الاونسونو) او امتيازاتو په ورکولو سره کوښښ وکړ تر څو دوې خپل خلک دانگريزانو سره دجگړې څخه منع کړي.


ميجر ايلدرد (حاجي پاتنجر)

ج    دمختلفو ديني او مذهبي ډلو ټپلو ترمنځ نفاق اچول :

دانگريزي استعمار دپخوانيو طريقو څخه يوه هم دمذهبي اختلافاتو اور ته پوکې وهل وو. دانگريزي جاسوسانو دغه طرحې او پلانونه په سيمه کې دهندوانو او مسلمانانو، شيعه او سني او نورو نومونو لاندې دري سوه کاله وروسته هم پلي کيږي. دهمفر په نامه يو انگريز جاسوس، په اسلامي هيوادو کې دخپلو خاطراتو په کتاب کې ليکي چې دانگلستان دمستعمراتو وزارت دخپلو تخريبي فعاليتونو په ترڅ کې په اسلامي هيوادونو کې خپلو جاسوسانو ته دنورو دندو په ترڅ کې دنده سپارلې وه تر څو مذهبي اختلافاتو اور ته پوکې ووهي، مسلمانان په جهل او بې خبرۍ کې وساتي، گډوډيو، فساد او اړودوړ ته لمن ووهي، مسلمانه چارواکي او حاکمان فساد

ته راکاږي، او ددین دعالمانو په جامه کې دمستعمراتو په وزارت پورې تړلي عالم نما کسان ورننباسي[۱۳].

## د    دپیرانو، ملنگانو، تاجرانو او سیلانیانو په جامه کې د انگریزي جاسوسانو لیږل:

په افغانستان کې دانگریزانو د لومړنیو جاسوسانو له ډلې څخه یو هم میجر ایلدرد پاتنجر (1811-1843) وو. دغه انگریز عسکر او دیپلومات، کوم چې په ۱۸۳۷ م کال کې دیوه سوداګر حاجي پاتنجر په بڼه افغانستان ته سفر وکړ او ډیر یې غوښتل چې دخپلو مقاصدو دعملي کولو دپاره دیوه محلي خان دلور سره واده وکړي، په هرات کې دیوه هندوستاني ملا په نامه فعالیت، او دهرات دښار په جامع جومات کې دخطیب او ملا امام دنده تر سره کوله. کله چې هرات دځینو روسي منصبدارانو په ګډون دایران دلښکرو تر ګواښ او حملې لاندې راغې، نود هغه اصلي څیره هم خلکو ته په ډاګه شوه او له هراته وتښتید[۱۴].

کرنیل لارنس بل مشهور انگریز جاسوس وو چې دپیرکرم شاه تر نامه لاندې یې دغازي امان الله خان دواکمنۍ دنسکورولو دپاره فعالیت کاوه، او زیار یې ویست تر څو دانگریزانو څخه دهیواد دخپلواکۍ دغه ګټونکي مترقي پاچا خلکو ته دکافر او درسم او رواج دښمن په توګه وروپیژني.

دافغانستان دکنټرول دپاره دانگریزانو دهلوځلو په ترڅ کې ګڼ شمیر نورو انگریزي جاسوسانو هم فعالیتونه درلودل. ویلیام مورکروفت William Moorcroft دترکمن آسونو دسوداګر په نامه په افغانستان کې فعالیت درلود. ده دسیلاني او سوداګر په نامه د۱۸۱۹ او ۱۸۲۵ کلونو ترمنځ همالیا، پنجاب، کشمیر، پیښور، کابل، کندز او بخارا کې فعالیت درلود. هغه په یوه روایت په ۱۸۲۵ کال کې بلخ سره نژدې مړ شو. خو د ابې حک ( Abbé Huc ) په نامه یوه فرانسوي عیسوي مبلغ په وینا هغه په۱۸۲۲م کال کې دتبت مرکز لاسا ته ورسید او دولس کاله وروسته، کله چې بریتانوي هند ته ستنیده، په لاره کې ووژل شو.

ډګروال ریچارد ستودارت Charles Stoddart دانگریزانو دنظامي استخباراتو یو بل مامور وو چې دسترې لوبې په دوران کې یې په هرات او مرکزي آسیا کې فعالیت درلود. هغه په ۱۸۴۲کال کې دبخارا دامیر نصرالله خان لخوا ونیول شو. هغه دخپل یو بل انگریز ملګري ارترکونولي Arthur Connolly سره یوځاې د ۱۸۴۲ کال دجون په میاشت کې دجاسوسۍ په تور ووژل شو. دغه وروستي کس هم داستخباراتي فعالیتونو په ترڅ کې سیمې ته اوږده سفرونه کړي وو. دا دواړه جاسوسان په انګلستان کې هغه وخت مشهوره شول، کله چې په ۱۸۴۵کال کې د جوسف ولف (1795 - 1862) Joseph Wolff په نامه یوه تن مسیحي مبلغ چې پخوا یهود وو، دهغوې د سرنوشت دمعلومولو دپاره سیمې ته سفر کړې او وروسته یې دسفر خاطرات نشر ته وسپارل. جوسف ولف خپله دمرګ نه هغه وخت ژوندي پاتې شو، کله چې امیر ته دهغه په جامو ډیره سخته خندا ورغله او ځان یې کنټرول نکړاې شو.



الکساندر برنس

ډاکټر پیرسیبول بارټون Lord Percival Barton[۱۵] (۱۸۰۸-۱۸۴۰) یو بل انگریز ډاکټر او جراح وو چې دالکساندر برنیس دسفر ملګري او دافغانستان دچارو کارپوه ګڼل کیده. هغه وروسته دمکناټن سیاسي مرستیال شو، د۱۸۳۸کال دخیبر په جګړه کې یې برخه واخیسته، دامیردوست محمد خان دتختیدو نه وروسته په ۱۸۳۹-۱۸۴۰ کال کې ورته دهغه په هکله دمعلوماتو دپیداکولو ماموریت وسپارل شو، ژمې یې د بامیانو په سمڅو کې تیر کړ او په ۱۸۴۰ کال کې هغه وخت ووژل شو، کله چې انگریزي قواوو دپروان په دره کې دامیردوست محمد خان دقواوو څخه ماتې وخوړه.

الکساندر برنیس Captain Sir Alexander Burnes (1805 –1841) چې دبخارا په برنیس مشهور وو، د سترې لوبې یو بل لوبغاړې وو چه دسیلاني په جامه کې یې فعالیت کاوه. هغه په شپاړس کلنۍ کې دشرقي هند دکمپنۍ دپوځ غړیتوب ترلاسه کړ. لومړې ماموریت یې داباسین د سیند او دریې په هکله دمعلوماتو

ترلاسه کول وو. وروسته يې د موهن لال په ملګرتيا دافغانستان او هندوکش له لارې بخارا او پارس ته سفرونه وکړل. کله چې په ۱۸۳۹ کال کې شاه شجاع دکابل په تخت کښېنول شو، نو برنيس هم په کابل کې دانګريزانو دسياسي ايجنټ په توګه وټاکل شو او تر څو چې په ۱۸۴۱ کال کې ووژل شو، هلته اوسيدو. په ۱۸۶۱ کال کې څرګنده شوه چې په ۱۸۳۹ کال کې له کابله دهغه په ځينو استول شوو رپوټونو کې ګوتې وهل شوې وې تر څو دهغه نظريات په بل ډول منعکس کړای شي.

ديادوني وړ ده چې انګريزانو دخپلو استخباراتي فعاليتونو په لړ کې داروپايي او امريکايي جاسوسانو څخه هم کار اخيستلې دئ. حوزيه هارلن Josiah Harlan (۱۷۹۹- ۱۸۷۱۰) چې وروسته دغور په شهزاده مشهوره شو شايد په افغانستان کې لومړنی امريکايي جاسوس اوسي. هغه پرته لدې چې کومه رسمي زده کړه ولري، دشرقي هند په کمپنۍ کې د هند دکلکتې په عمومي روغتون کې دجراح په توګه مقرر شو. لومړې د څه مودې دپاره دپنجاب د مهاراجا (په سانسکريت کې ستر پاچا) رنجيت سنګهـ په دربار کې او بيا دافغانستان دفراري پاچا شاه شجاع په خدمت کې وو. هغه دشاه شجاع دبيا قدرت ته رسولو په لړ کې پيښور او کابل ته ماموريتونه درلودل. هغه په پيښور کې د امير دوست محمد خان دورور نواب جبار خان سره ځکه وکتل چې انګريزانو کوښښ کاوه جبار خان د شاه شجاع په ملګرتوب دامیردوست محمد خان درقيب په توګه استعمال کاندي. حوزيه هارلن وروسته دامیردوست محمد خان په پلويتوب دهغه د کشر ځوی سره يوځای ديوه ستر لښکر په ملګرتيا دازبيک مراد بيګ دټکولو دپاره دهندوکش څخه تير شو او ځان ورته دنوي عصر مقدوني سکندر ښکاره شو. هغه په سيغان کې ديوې کوچنۍ جګړې نه وروسته د محلي واکمنانو سره ملګرتوب پيدا کړ او بيا دڅه مودې دپاره د غور د محلي واکمن محمد رفيع بيګ ميلمه وو. او ويل کيږي چې رفيع بيګ هغه سره ژمنه وکړه چې که غور ته راستون شي نو هغه او دهغه اولاده به دغور شهزادګان وګڼل شي. حوزيه هارلن په امريکې کې هغه وخت شهرت ته ورسيد، کله چې رودیارد کيپلينګ Rudyard Kipling له هغې څخه د *"هغه سړی چې پاچا کيدو"* په نامه خپل داستان د اتل په نامه يادونه وکړه.



حوزيه هارلن

## ه   دپيرانو او ملنګانو په جامه کې دهندوستاني جاسوسانو ليږل:

له کومه ځايه چې انګريزانو ته ددیني عقايدو په هکله د افغانانو احساسات څرګند وو، نو ددوی ددغو احساساتو څخه دناوړې استفادې دپاره يې زيار وويست تر څو دروحانيونو په جامه کې افغانستان ته خپل جاسوسان راواستوي. اروابناد غبار پدې هکله ليکي چې "کله چې دانګريزانو مسلمانه نوکران داباسين څخه تيريدل، نو هريوه به ځانته د ملا، مولوي، مولانا، پاچا او سيد لقب غوره کاوه، او دخلکو دغولونې دپاره به يې د "انګريزانو دمخالفت" بيرغ په اوږه کړې، او داسلام ديووالي او هندوستان دخپلواکۍ ډيره په سينه وهله. نو دوی به دافغانستان د خلکو او افغاني دولتونو لخوا په مينه او اعتماد سره قبليدل، او ځيني به دافغانستان دلوړ پوړو نظامي او ملکي مامورينو په ډله کې شامليدل[۱۲]".

ددې پيرانو په ډله کې يو هم ميا عبدالستار شاه ووچې په نقاب پوش مشهور وو، او په قندهار کې يې د شاه زمان دوژلو ناکامه دسيسه جوړه کړه، خو خپله دنيول کيدو څخه وروسته ووژل شو. بل کس ميا غلام محمد هندي وو چې د روحاني په جامه کې په کندهار کې اوسيده او هغه يې کوله چې د شاه زمان پرضد د يوې بلې دسيسې کار ترسره کړي. دده په کور کې دپاينده بارکزي، عظيم الکوزي، نورالله بابري، اسلام پوپلزي، حکمت سرکاني، سلطان نورزي، خضر عليزي، زمان پوپلزي، جوانشير ارسلان، جعفر جوانشير، او شريف قزلباش په ګډون د شاه زمان د راپرزولو دسيسه جوړه شوه.

## و   دغازيانو او انګريزانو دمخالفينو په جامه کې دهندوستاني ايجنټانو استول:

کله چې دآزاد سرحد په قبايلي سيمو کې دانګريزانو په خلاف غزاګاني او فعاليتونه پيل شول نو انګريزانو هم ددئ غورځنګ دناکامولو دپاره خپل ايجنټان دانګريزانو دمخالفينو او آزادي غوښتونکو مبارزينو په جامه کې هلته واستول. دوی داکار وروسته

دخلافت دتحریک، په ۱۹۱۶م کال کې په کابل کې دهندوستاني آزادي غوښتونکو دجلا وطن یا موقت حکومت دجوړیدو، اوبیا وروسته د هجرت دتحریک په وخت کې هم وکړ او خپل ګڼ شمیر جاسوسان یې دبریتانوي هند په خلاف دهندي مسلمانانو او مهاجرینو په جامه کې کابل او دافغانستان نورو سیموته ولیږل.

### ز   دهیواد پاله مشرانو ترور او وژنه:

دانګریزانو مخالفین او هغه کسان به چې ددوی دپلانونو دعملي کولو په وړاندې خنډ واقع کیدل، نه یوائې داچې د دوی دجاسوسانو او لاس پوڅو لخوا په راز- راز بدناموونکو تبلیغاتو تورن کیدل، بلکې ددوی دکرکټر د وژلو د کوښښونو په څنګ کې به په فزیکي توګه هم له منځه تللي او په مرموزه او یا څرګنده توګه وژل کیدل. دمثال په ډول موهن لال دهغو ملي او قومي مشرانو دوژلو دپاره زیاتې پیسې مصرف کړې، کومو چې دانګریزانو سره مخالفت کاوه. په دې ترڅ کې دعبدالله خان اچکزي وژل، دمیرمسجدي خان او امین الله خان لوګري دوژلو هڅه، په جلال آباد کې په سردارمحمد اکبر خان حمله او دهغه ټپي کیدل، او لسهاوو نورو کسانو ته دزهرو ورکول یوائې څو نمومي دي. دانګریزانو دمخالفینو دوژلو او له منځه وړلو دا سلسله وروسته حتی دسیمې څخه دانګریزي مستقیم استعمار دټغر ترټولیدو وروسته هم روانه وه چې ژوندي مثالونه یې دغازي امان الله خان دحکومت په وروستیو شیبو کې دکنړ دغازي میرزمان خان شهادت او وروسته دسپه سالار محمد نادر خان او دهغې دکورنۍ داستبداد دقربانیانو اوږد لست دئ.

### ح   دانګریزانو پلوي چارواکي او افغاني ګوډاګیان:

داعلیحضرت غازي امان الله خان ددولت په نسکورولو کې دانګریزانودتوطئو دکتاب دلیکونکي محمد ولي په وینا "انګلیسي ختیځ پیژندونکو دختیځې نړۍ دخلکو خواص او عادتونه درک کړي او پوهیدل چې دیوه انګریز لخوا د هغوې دپلانونو عملي کول ناشوني دي، دمثال په ډول که دافغانستان خلکو ته شاه شجاع دمنلو وړ نه وو، نو بیا مکناټن او یا ایلفنسټن کله په مستقیم ډول دا دنده تر سره کولای شوه. له همدې امله یې کوښښ وکړ داپلانونه خپله دافغانانو په لاس عملي کړي او ددې کار لپاره یې له چارواکو نیولې تر روحانیونو، سیاسیونو او غلو او داړه مارانو پورې سره راټول کړل".

انګریزانو په خاصه توګه هغو کسانو ته ډیره اړتیا درلوده، کومو چې سیاسي، روحاني او نظامي مهارتونه درلودل، تر څو دخپلو مقاصدو دلاسته راوړلو دپاره په سیمه کې دامنیت خرابوالې او دخلکو ترمنځ د جګړو اونفرت اور ته پوکې ووهي. څرنګه چې دانګریزانو دافغاني جاسوسانو او همکارانو لست ډیر اوږد او ددې لیکنې دحوصلې نه بهر دئ، نو دلته یې دلیکلو څخه ډډه کوو [۱۷].

### ط   ددیوبندي ملایانو په جامه کې د جاسوسانو او تخریب کارانو فعالیتونه

ددیوبند مدرسه د هندوستان د "ډیلي" شمال لورې ته سل میله لرې د "اوترپردیش" د ښار ددیوبند په سیمه کې موقعیت لري. د اتلسمې پیړۍ په وروستۍ او د نونسمې پیړۍ په لومړې سر کې ددې مدرسې نه د "شیخ الهند مولانا محمودالحسن" په ګډون ګڼ شمیر اسلامی عالمان فارغ شویدي. ددیوبند فارغانو په مختلفو سیمو کې مدرسې جوړې کړې او په اوسني پاکستان کې ګڼ شمیر پیروان لري. دوې عقیده لري چې د مسلمانانو لومړنۍ وفاداري د خپل دین سره او بیا وروسته د خپل هیواد سره ده: دویم داچې مسلمانان یوائې د خپل امت



دغازي امان الله خان دوژنې یوه بله هڅه
په دې عکس کې یو بل ملا او دهغې دوه تنه ملګري لیدل کیږي چې په غازي امان الله خان باندې دناکامه حملې څخه وروسته نیول شویدي.

ديني سرحدات (پولې) پېژني نه ملي سرحدات؛ او دريم داچې دوې د مسلمانانو د حمايت دپاره هر هيواد ته د تګ او جهاد کولو حق او وظيفه لري. ددېوبند مدرسه که څه هم دديني علومو يوه مدرسه وه، خو ګڼ شمير داسې مجاهدين يې وروزل چې دمذهبي احکامو په اساس يې دانګريزانو دښکيلاک څخه دهندوستان خپلواکي غوښتله. ددې مدرسې شاګردانو دانګريزانو د ښکيلاک نه دهندوستان دخلاصون دپاره په مبارزو او سياسي فعاليتونو کې د فعاله برخې اخيستلو له کبله داعتماد وړ مبلغينو په توګه دهندوستان دخلکو په زړونو کې ځای نيولی وو. داروانښاد غبار په وينا، څرنګه چې انګريزانو دهند په ټولنه کې ددې مدرسې اغيزه په خپله ګټه نه ليدله، نو ځکه يې دهغې دشنډولو دپاره ګڼ شمير کسان دغه مدرسې ته ورننويستل، تر څو دفراغت نه وروسته ددېوبند تر نقاب لاندې دانګريزي استعمار په خدمت بوخت شي. دا ددېوبند دمدرسې ښه نوم ته يوه سخته ضربه وه. انګريزانو دامير حبيب الله خان او غازي امان الله خان دواکمنۍ په وخت کې ددېوبند دمدرسې يو شمير ملايان افغانستان ته واستول. داماني دولت په وړاندې پرسختو تبليغاتو برسيره، دملا عمادالدين هندوستاني په نامه يوه تن دخپلو ملګرو په مرسته د پغمان په لاره دقرغې دپله په برخه کې دغازي امان الله خان دوژلو ناکامه هڅه هم وکړه.

دافغانستان د خپلواکۍ د ګټلو نه وروسته دانګريزانو جاسوسي او تخريبي فعاليتونو شدت وموند. دوې دافغانانو سره دانګريزانو ددوو لومړنيو جګړو ددرسونو په نتيجه کې دافغانستان په هکله تر ټولو ويجاړونکې پاليسۍ ته لاس واچوو. داپاليسي خپله دافغانانو په واسطه دهيواد کنټرول وو. ځکه چې دمستقيم اشغال په صورت کې خلک خپل خارجي دښمن پېژندلای او دهغو په وړاندې خپله لار تعينولای شي، په داسې حال کې چې دکورني نقاب لاندې ددښمن نفوذ دخلکو څخه دغه لاره ورکوي.

داروانښاد غبار په وينا[18] دافغانستان په هکله دانګريزانو ددولت پاليسي په مختلفو پړاوونو کې يو واحد هدف او ستراتيژي تعقيب کړې او هغه داوو چې څه دجګړې او يوځي اشغال له لارې، څه دولسلي د په اصطلاح ملګرتوب او مرستې د پاليسۍ له لارې، څه دټوټې کولو او تجزيې له لارې، او څه دافغاني ګوډاګي حکومتونو له لارې دهيواد سياسي استقلال او دنړۍ دهيوادو سره دهغې اړيکې له منځه يوسي، ملت په نفاق او کورنۍ جګړه کې وساتي، د دولت څخه دخلکو تنفر ځکه زيات کړي تر څو دوې ته اړتيا ولري، او ددې په څنګ کې خپلو پراخو تبليغاتو سره هيوادنړۍ ته دجهل، وحشت، غلا او درواغو په صفتونو وروپېژني، او هيڅ ډول تاريخي افتخار او فضيلت ورته پرې نږدي.

که چيرې دافغانستان اوسني حالت او په افغانستان کې دناتو دسوله ساتونکو قواوو په ډله کې دانګريزي لښکرو او قواوو موجوديت او کړو – وړو ته ځير شو نو څرګنده به شي چې که څه هم د زاړه استعمار ښه په نوي استعمار، او بيا دنړۍ په نوي نظم بدله شوه، خو دافغانستان په هکله دانګريزانو په پاليسۍ کې کوم بدلون راغلی ندئ.

---

[1]. اتم هنري (۱۴۹۱ - ۱۵۴۷) د انګلستان د پاچا اووم هنري دوهم زوی وو چې په ۱۵۰۹ م کال کې دپلار دمرګ نه وروسته پاچا شو. هغه دکاترين آراګن دطلاق او يوې داسې ښځې د موندلو په سر چې يو وليعهد ورته وزېږوي داوم پاپ او دروم دکاتوليکې کليسا سره مخالف شو. ددې مخالفت په نتيجه کې هنري په انګلستان کې دپاپ مذهبي واکمني ختمه، دانګلستان کليسا مستقله او ځان يې دهغې دمشر په توګه معرفي کړ. هنري يوپوه، اديب، ژبپوه، او په موسيقۍ هم پوهيده. خو دهغه دشهرت علت په پرلپسې توګه شپږ ودونه او دخپلو دوو ښځواعدامول وو. (دايره المعارف يا آزاده ويکيپيډيا؛ او انګليسي بريتانيکا دايره المعارف)

[2]. داوم هنري زوی، اتم هنري دري اولادونه درلودل چې يو پربل پسې سلطنت ته ورسيدل. دهغه دريم اولاد ملکه اليزابت وه چې په ۱۵۳۳ م کال کې زيږيدلې وه. کله چې ملکه اليزابت دسلطنت پر تخت کښيناسته نو دمذهبي لانجو د مخنيوي دپاره يې دانګلستان دمذهب بنسټ دکاتوليک مذهب پر تشريفاتو کيښود، خو دکاتوليک دمذهب ځينو پيروانو هغه ونه منله او د سکاتلند ملکې، ماری استوارت، ته يې پناه وروړه کومې چې دملکې اليزابت سره کورنۍ خپلولي هم درلوده. ددې پيښې په نتيجه کې ددواړو مَلګو ترمنځ دښمني پيدا شوه تر څو چې ملکې اليزابت، ماری استوارت بندي کړه او ۱۹ کاله وروسته يې په ۱۵۸۷ م کال د لندن په زندان کې سر ترې غوڅ کړ. لومړۍ ملکه اليزابت په ۱۶۰۲ م کال کې مړه شوه.

[3]. Twigge, Hampshire and Macklin (2008). British Intelligence: Secrets, Spies and Sources. The National Archives, Kew, UK.

[۴]. Lord Richard Wellessly د۱۷۹۸م کال څخه تر ۱۸۰۵م کاله پورې دهندوستان بريتانوي گورنر جنرال وو. هغه دهند په نيمې وچې کې دانگريزانو دعدم مداخلې (تړلو سرحدونو يا دفاعي) پالې سې، په اصطلاح دملگرتوب او مرستې په پاليسي بدله کړه. دهغه اصلي مقصد په هندوستان کې دانگريزانو دنفوذ پراختيااو دشرقي هند دکمپنۍ دتجارتي اړيکو زياتول وو. دهغه په نظر دفرانسويانو سره دنړيوالې جگړې او دناپليون د مخکې تگ په صورت کې هندوستان ته ستر خطرمتوجه وو. دهغه دپاليسۍ په اساس دهندوستان محلي واکمنان په زور دانگريزانو تر حمايت لاندې راوستل شول. داپالتونو دکورنيو آزاديو په ضمانت سره دهغوې دخارجي چارو واک انگريزانو ته وسپارل شو او دهغوې په ايالتونو کې انگريزي عسکري قواوو د ځاي په ځاي کيدو امکانات برابر شول. دانگريزانو سره دميسور څلورمه جگړه هم څکه پيل شوه ، چې د ميسورواکمن سلطان فتح علی خان(سلطان ټيپو) دانگريزانو سره ملگرتوب څخه غاړه وغړوله.

[۵]. کهزاد ، احمد علی. رجال و رويداد های تاريخي، دپيښور چاپ.

[۶]. دستري لوبې اصطلاح دلومړي ځل دپاره د نولسمې پيړۍ په سر کې د دغې جنگ جگړې يوه بريتانوي گډون کوونکي *ارتر کونولي* "Arthur Connolly" اختراع کړه. دانگريزانو دغه مامور داستخباراتي معلوماتو دراټولولو دپاره په سيمه کې اوږده سفرونه وکړل. دغه انگريز دخپل يوه بل ملگري *چارلز ستودارت* Charles Stoddart سره يو ځاي په ۱۸۴۲ کال کې په بخارا کې خپل ژوند هغه وخت له لاسه ورکړ، کله چې ددواړو سرونه پريکړ شول. خو دستري لوبې اصطلاح په ۱۹۰۱ کال کې د "کيم" *Kim* په نامه د Rudyard Kipling کيپلنگ د يوه داستان د خپريدو نه وروسته عامه شوه.

[۷]. داکتاب د *"زندگی امير دوست محمد خان امير کابل"* تر نامه لاندې په دوه ټوکه کې دکابل دپوهنتون دپخواني استاد پروفيسر ډاکټر سيد خليل الله هاشميان لخوا ژباړل شوې او په امريکا کې دائينۀ افغانستان دمجلې لخوا خپور شوې دئ.

[۸]. Loyn, David (2009). ۱۲ مخ

[۹]. داسې ښکارې چې دانگريزانو لومړنې مسلمان وکيل د ۱۸۵۲ کال دهغې لوظنامې په نتيجه کې مقرر شوې، کومه چې دانگريزانو او امير دوست محمد خان تر منځ دهغه دزوې سردار غلام حيدر خان اوبريتانوي گورنر جنرال داستاځي جان لارنس John Lawrence تر منځ ترسره شوه. دپيښور ددغې لوظنامې په پنځمه ماده کې، په کابل کې دانگريزانو دحکومت وکيل ته خاصه اجازه ورکړ شوې وه. داوکيلان به تل هندي مسلمانان وو او لومړې وکيل نواب فوجدار خان نوميده چې د ۱۸۵۲ څخه د ۱۸۵۹کال داپريل تر مياشتې پورې يې دنده سرته رسوله.

[۱۰]. محمد ولي(۱۳۸۷)، توطئه انگليس در سقوط دولت اعليحضرت امان الله خان

[۱۱]. Loyn, David (2009). (په افغانستان کې: دانگريزانو ، روسانو او امريکائيانو دوه سوه کلن اشغال) ۱۱ مخ

[۱۲]. ډاکټر محمد انور خان د The Role of N.W.F.P. in the Fredom Struggle يا دآزادۍ په مبارزې کې د شمال مغربي صوبه سرحد د رول په نامه دخپل کتاب په لومړۍ ضميمې کې د څلور پنځوسو (۵۴) خانانو او اربابانو يو لست ليکلې چې انگريزانو ورته د نشت په بيه جايدادونه ورکړيدي.

[۱۳]. ***Memoirs Of Mr. Hempher, The British Spy To The Middle East*** يا ديوه انگريز جاسوس اعترافات، هغه سند دئ چې په اتلسمه پيړۍ کې دهمفر په نامه يوه انگريز جاسوس ته منسوب شوې، چا چې دمسلمان په جامه کې دعثماني خلافت دمرکز دکمزوري کولو دپاره د مصر، عراق، ايران، حجاز او استانبول په هيوادونو کې ماموريت درلود. ددې کتاب دانگليسي نسخې په مقدمه کې چې په بمبئي کې چاپ شوې راغلي چې ددوهمې نړيوالې جگړې په ترڅ کې، جرمنيانو ددی انگريز جاسوس خاطرات ديوه پرلپسې داستان په توگه د شپيگل په مجله کې خپاره کړي ترڅو دانگيسي امپرياليزم اصلي څيره خلکو ته څرگنده کړي. داکتاب دوهابي مسلمانانو له خوا غندل شوې او د محمد ابن عبدالوهاب او هغه دپيروانو دبې اعتباره کولو دپاره دانگريزانو هڅه گڼل شوې ده.

[۱۴]. ايلډرد پاتينجر Eldred Pottinger دهرات په محاصره کې له هغه ځايه په تيښته بريالې شو. هغه په افغانستان باندې دانگريزانو دلومړۍ حملې دقواوو غړې وو ، دمکناټن دمرگ نه وروسته په کابل کې دانگريزانو مشر سياسي نماينده شو ، دافغانستان څخه دانگريزي قواوو دويستلو په خبرو کې د انگليسي هيئت مشر وو ، دافغانو او انگريزانو دلومړۍ جگړې دماتې مسئول وگڼل شو ، په ۱۸۴۱ کال کې دکاپيسا په کوهستان کې هغه وخت دافغانانو لخوا بندي او وزير اکبر خان ته وسپارل شو ، کله چې يې په سيمه کې تبليغات کول. هغه څو مياشتې وروسته د جنرال پالک دقواوو په مرسته له زندانه خلاص او دخيبر په دره کې دانگريزي قواوو دقتل عام څخه ژوندې پاتې شو او يو کال وروسته په ۱۸۴۲م کال کې په هانگ کانگ کې د محرقې په تبه مړ شو.

[۱۵]. دهندي بيوگرافی ډکشنري، ۲۵۳ مخ

[۱۶]. غبار، مير غلام محمد (۱۳۶۲). افغانستان در مسير تاريخ ، ۴۵۵ مخ

[۱۷] . لوستونکي کولای شي په دې هکله دزياتو معلوماتو دپاره د ليډي سيل (1790-1853) Lady Florentia Sale کتاب (چې د "شبيخون افغان" په نامه مير عبدالرشيد بيغم ژباړلې او په ۱۳۷۰ کال کې په کابل کې چاپ شوې)، دموهن لال د "امير داست محمد خان دژوند "کتاب ، داروانباد مير غلام محمد غبار د "افغانستان در مسير تاريخ "کتاب، دښاغلی عبدالرحيم شيون د "برگ های از تاريخ معاصر وطن ما " او نور کتابونه ولولي.

[۱۸] . غبار، مير غلام محمد (۱۳۶۲). افغانستان در مسير تاريخ ، ۴۴۴ مخ. (پاې)